د افغانستان اسلامي امارت

هفته‌نامهٔ
# نیمروز
اونیزه

۱۹۰ گڼه

د اطلاعاتو او کلتور ریاست
د اطلاعاتو آمریت

شنبه، ۲۲ رمضان ۱۴۴۳ | ۳/ ثور/۱۴۰۱ | 23/Apr/2022

سرلیکنه

## اوسنی نظام مو د قربانیو او سرښندونو پایله ده!

د شک پرته افغان بې گناه اولس په څلورو لسیزو په ځانگړې ډول ورستیو شلو کالونو کښې د ډول ډول هغو ستمونو، وحشتونو او کړاوونو شاهد ؤ، چې په معاصر تاریخ کښې یې ساری نه لیدل کیږي.

د شپنیو چاپو څخه نیولې بیا د کلیو او ښارونو تر ړندې بمبارۍ، آن د بمونو تر موره پوري، دا هر څه پر همدې اسکیرلې اولس باندې و آزمایل سول.

خو د دې هرڅه سره سره بیا هم د ویاړلي او غیور اولس حوصلې له منځه نه ولاړې، او په خپلو قربانیو او سرښندونو سره یې غلیم ته د سر په کوپړۍ کښې اوبه ورکړلې، چې په پایله کي داسي یو اتلولي د څښتن تعالی په نصرت سره په برخه سول، چې دښمنان څه نړۍ ورته گوته په غاښ سوه، او غلیم به هیڅ کله د همدې میړني اولس سرښندني او د فدائي اتلانو گوزارونه د یاده ونه باسي.

هوکې! دا زموږ د اتلانو سرښندنې وې، چې په پایله کې یې متعال رب، و دې کړېدلي او زوربدلي اولس ته یو سوچه اسلامي نظام ور په برخه کړ او تېریگر ځواکونو په شرمونو سر، له دې سپېڅلي خاوري څخه وشړل سول، نو اوس په کار ده چې ټول افغان اولس په یوه آواز د همدې سپیڅلي نظام ننگه وکړي، او د خپل گران هیواد د آبادۍ او سمسورتیا په پار، ملت او دولت دواړه متې را بډ وهي، څکه په یووالي کي هم واک سته هم ځواک.

د همداسي یوې ورځې په هیله چې هیواد مو په هر ډگر کښې پر ځان متکي، او د پردیو د احتیاجه خلاص وي.

**درنښت: اداره**

## د نیمروز والي، د ملگرو ملتونو د مرستو د همږغۍ له رئیس سره ناسته وکړه



زرنج، د روژې ۱۵/ د ورى ۲۷ مه

د نیمروز والي، ملا نجیب الله "رفیع" په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د نړیوالي اداري د بشري مرستو د همږغۍ د دفتر له رئیس، ندیم "بشري" او ډان "مینا" په هېواد کې د وگړو لپاره د وجهې صندوق له رئیس سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

د لیدنې په پیل کې د نیمروز والي، پلاوى ته د ښه راغلاست ترځنگ وویل، د افغانستان د اسلامي امارت د حاکمیت سره سم په ټول هېواد کې بشپړ او ډاډمن امنیت رامنځته سوی، ستاسو په شمول ټولې نړیوالي مرستندویه ټولنې په ډاډه زړه دلته فعالیت لري او کولای سي. وروسته ښاغلي رفیع زیاته کړه، نیمروز یو لېری ولایت دی، د نورو ولایتونو ترڅنگ ستاسو پاملرنه دې ولایت ته هم غواړو.

د نیمروز والي، همداراز په دې ولایت کې د ځښاکو اوبو کمښت، د مرکز په کچه د معیاري روغتون د پاته کارونو د بشپړولو، د موسساتو او مرستو جلب همدارنگه د نورو ټولنیزو ستونزو او موضوعاتو او د عام المنفعه پرژو د یادونې ترځنگ یې د پلاوي پاملرنه وغوښتل.

ښاغلي بشري او مینا د نیمروز د والي، له نیک چلند څخه د مننې ترځنگ ژمنه وکړه، چې په خپلو بشري مرستو کې به د دې ولایت اړمن اولس ته جدي پاملرنه وکړي. دوی همدارنگه وویل، چې د پرژو د پلي او د نیمروز نورې ستونزې او وړاندیزنه به د مرکزي دفتر سره شریک سي. دا په داسې حال کې ده، چې د افغانستان د اسلامی امارت د حاکمیت سره سم د نړیوالي ټولنې مرستندویه کارکوونکي د بشپړ او ډاډمن امنیت په شتون کې، لېرو پرتو ولایتونو او سېمو ته سفرونه کوي.

## د امنیتي حوزو له مسؤولینو سره ناسته

د نیمروز د امنیه قوماندانۍ د امنیت آمر مولوي محمد "مهاجر" د دې ولایت د څلورو امنیتي حوزو له آمرینو، د جنایي مدیرانو او د استخباراتو له منسوبینو سره په خپل کاري دفتر کې د امنیت د تآمین په موخه ناسته وکړه.

امنیت آمر مولوي محمد "مهاجر" د ولایت مقام د هدایت سره سم د بهرنیو پیسو د بنډیز او افغانۍ پیسو د ترویج په اړه معلومات د گډونوالو سره شریک کړل او د زرنج ښار د امنیت په اړه یې هم خبرې وکړې. ټولو مسؤولینو د زرنج ښار د ښاریانو د امنیت د تأمین په په موخه خپل نظرونه شریک کړل او پر ښو همږغیو یې ټینگار وکړل. زرنج، د روژې ۱۸مه/ د ورى ۳۰ مه

## د ۵۰۰ روږدو کسانو درملنه وسوه

**۵۰۰ تنه په نشه یې توکو روږدي کسان تر درملنې وروسته، خپلو کورنیو ته بېرته ولېږل سول**

زرنج، د روژې ۱۸مه/ د ورى ۳۰ مه ۵۰۰ تنه، په نشه یې توکو روږدي کسان د نیمروز د عامې روغتیا ریاست لخوا د څلور میاشتنې درملنې وروسته، د نیمروز ولایت مقام د مرستیال ملا محمد نبي "عثماني"، امنیه قومندان، الحاج سردار محمد "ایوبي"، د امنیت آمر، مولوي محمد "مهاجر"، عامې روغتیا رئیس، مولوي عبدالرحمن "عبدالله" او ارشاد حج او اوقافو رئیس مولوي فضل الرحمن "مستغر" په حضور کې، خپلو کورنیو ته واستول سول.

د نیمروز د عامې روغتیا رئیس، مولوي عبدالرحمن "عبدالله" باختر آژانس ته وویل، چې څلور میاشتې وړاندې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې مدیریت له لوري د زرنج ښار څخه چې د ۳۰ ولایتونو پورې مربوط ۱۸۰۰ تنه، روږدي کسان راټول او د روږدو د درملنې کلینیک ته ولېږدول سول، چې دا دی د ۵۰۰ روږدو کسانو درملنه یې تر سره سوه...

**په ۳ پاڼه کې دوام...**



## ۷ ټنه، تاریخ تېره توکي وسوځول سول

زرنج، د روژې ۱۳مه/د ورى ۲۵ مه

نیمروز ولایت کې،۷ ټنه، تاریخ تېره خوراکي توکي د جوړې سوي کمیټې د غړو په حضور کې وسوځول سول.

د نیمروز ولایت د صنعت او سوداگرۍ خونې رئیس، حاجي ملا فاضل محمد "فضلي" باختر آژانس ته وویل: د تاریخ تېرو توکو د کمیټې لخوا په تیرې یوې میاشتې کې اووه ټنه، تاریخ تېره توکي د زرنج ښار له بیلابیلو سیمو څخه د ۱۵ لکه افغانیو په ارزښت، چې پکې صابون، خوراکي توکي، مشروبات، طبي او د سنگار توکي هم شامل دي وسوځول سول.

ښاغلي فضلي زیاته کړه، چې هره اوونۍ کمېټه په زرنج ښار کې څارنه کوي او تاریخ تېره توکي راټولوي.

د صنعت او سوداگرۍ خونې رئیس همداراز، له سوداگرو او هټیوالو وغوښتل، چې د تاریخ تېرو توکو د پلور څخه ډډه وکړي.

په نیمروز ولایت کې د خوراکي توکو د کمېټې غړي ریاستونه عبارت دي له (صنعت او سوداگرۍ خونې، امنیه قومندانۍ، مستوفیت، اقتصاد، عامې روغتیا، چاپیریال، کرنې، څارنوالۍ، ښاروالۍ، اتاق تجارت او نورم او استندارد ) اداري شاملي دي.



## د اسلامي امارت ټولو مجاهدینو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله هدایات!

الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د اسلامي امارت ټولو مجاهدینو ته یوه ستره فتحه ورنصیب کړه چې اوس د یوې ستري ازموینې سره مخ دي، ددې لپاره چې مجاهدین په دې ستره ازموینه کې بریالی شي، باید لاندي ټکو ته جدي پاملرنه وکړي:

۱- ټول مجاهدین خپل نیتونه خالص الله فی الله وگرځوي.

۲- مشران او کشران ټول د تقوا په زینت سره خپل ځانونه ښایسته کړئ.

۳- د الله (جل جلاله) ډیر حمد وواياست چې د مقدس جهاد په برکت او په خپل نصرت سره یی عظیمه فتحه در په برخه کړه.

٤- په ټولو چارو کې د عدل او انصاف څخه کار واخلئ.

٥- د خپل ځوریدلی ولس احسان کوئ.

٦- د کبر، غرور، عجب، ظلم او خیانت څخه ځانونه وساتئ.

۷- د قوم پرستۍ، منطقه پرستۍ، لسان پرستۍ او انډیوال پرستۍ څخه په کلکه پرهیز وکړئ.

۸- امتیاز باید په تقو او امانت دارۍ سره وي.

۹- په خپلو مینځو کې د اعتماد او وروگلوی فضاء قایمه کړئ.

۱۰- د داسې حرکتونو څخه ځانونه وساتئ چې په خپل مینځ کې بې اعتمادي رامنیځته کوي.

۱۱- په خپل مینځ کې د امربالمعروف او نهی المنکر فریضه مه پریږدي، لمونځونه په جماعت سره ادا کوئ.

۱۲- په بیت المال کې د خیانت کولو څخه ځانونه وساتئ.

۱۳- د شهیدانو د کورنیو او اولادونو ښه کفالت کوئ، هیڅ کله یې له یاده مه باسئ.

۱٤- یو د بل په کارونو کې د مداخلي کولو څخه جدی پرهیز وکړئ.


## شورای ولایتی علماء با مسؤولین قومندانی امنیه دیدار کرد



زرنج، ۱۹ رمضان/ ۳۱حمل

به اســاس راپور آژانس خبری باختر، هیئت نظارتی شــورای ولایتی علماء ولایت نیمروز با مسؤولین قومندانی امنیه این ولایت دیدار وگفتگو نمودند. مولانا سعیدگل "مظهری" مدیر ادری شورای ولایتی علماء، نقش نظارتی این شورای را به مسؤولین قومندانی امنیه شریک ساخته و در مورد اهمیت ارگان های امنیتی بحث و تبادل نظر نمود.

## نشست رؤسای اطلاعات و فرهنگ و امر بالمعروف



زرنج، ١٦ رمضان/ ٢٨ حمل

مـفـتـی حـبـیـب الـلـه" الـهـام" رئیس اطلاعـات و فرهنـگ ولایـت نیمروز با مولوی عبـدالغفـار "فـاروق" رئیس امر بـالمعروف و نهی عن المنکر و ســمع شکایات این ولایت دیدار کرد.

این دیدار که در دفتر کاری ریاست امر بالمعروف صــورت گرفت، در آغاز مفتی حبیب الله الهام ضـمن ابراز خرسـندی از این دیـدار افزود: در طی دو دهـه اخیر در کشــور مردم ما با فرهنگ‌های گوناگون غربی که هیچ نوع بنیاد شرعی ندارند مواجه بودند.

لازم اســت تا در زمینهٔ فرهنگ اســلامی و افغـانی و ترویج آن بین مردم فعـالیـت‌های دو جانبه صورت گیرد.

آقـای الـهـام در ایـن زمـیـنـه خواســتـار همکاری‌های بیشتر گردید.

متعاقبا آقای فاروق با تائید صــحبت‌های آقاي الهام افزود: با وصـف اینکه کشــور در تمامی ابعاد سیاســی، نظامی و اقتصادی زیر سلطه بیگانگان قرار داشته از نگاه فقر فـرهـنـگ نـیـز دچـار مشــکـلات زیـادی بوده‌اســت که با حاکمیت امارت اســلامی این معضل رفع خواهد شد.

د امتیاز خاوند: د نیمروز د اطلاعاتو او کلتور ریاست
مسؤول مدیر او ډیزاینر: عبدالنواب "نصیح"
هیئت تحریر: "الهام "، "یوسفزی" او "عزم".
خبریالان او عکاسان: عبدالرحمن "توخي" او نورعلي "رفیعي".
برېښنالیک: Nasihnawab@gmail.com
آدرس: نیمروز - د اطلاعاتو او کلتور ریاست - زرنج فرخی ۱
زموږ فیسبوک پاڼې: د اطلاعاتو او کلتور ریاست، جریده ی نیمروز
چاپ: افغان آزما

## رنگ آمیزی جدول‌ها جهت زیبایی شهر

**ریاست شاروالی زرنج به مبلغ ٦٠٠ هزار افغانی جدول‌های سطح شهر را رنگ آمیزی می کند**

مولوی نورالدین"حمزه" شاروال زرنج از روند کار رنگ‌آمیزی جدول سرک‌ها در سطح شهر زرنج، دیدن نموده و به آژانس خبری باختر گفت: که روند رنگ آمیزی جدول سرک‌های شهر زرنج به منظور زیبایی و ترمیم آن جریان دارد.

آقای "حمزه" اضافه نمود که به مبلغ ٦ لک افغانی از بودجه انکشافی ریاست شاروالی زرنج به این پروسه اختصاص یافته است که به طول ٦ هزار متر از جدول‌های مذکور رنگ‌آمیزی خواهد شود.

شاروال زرنج از باشندگان شهر زرنج خواستار توجه جدی در قسمت حفاظت و نگهداری جدول‌ها و نهال‌های غرس شده گردید.

هم‌چنان از اهالی شهر زرنج خواست تا در اماکن مسکونی و تجاری شان، جهت زیبایی شهر نهال غرس نمایند.

در همین حال عصمت الله و پرویز باشندگان شهر زرنج از اقدام نیک ریاست شاروالی، ابراز خرسندی نموده و در زمینه وعدهٔ همکاری دادند.

زرنج، ١٨ رمضان/ ٣٠ حمل

## د نیمروز د استیناف محکمې رئیس معرفي سو




زرنج، د روژې ۱۹مه/ د ورى ۳۱ مه

شیخ مولوي عبدالخالق صاحب د نیمروز د استیناف محکمې د رئیس په توگه، په داسی حال چی د ولایت مقام مرستیال ملا محمد نبي "عثماني" د امربالمعروف او نهی عن المنکر رئیس، مولوي عبدالغفار "فاروق" او د محکمې قاضیانو هم حضور دلود؛ معرفی سو.

په پیل کې د قرآن مجید د څو مبارکو آیاتونو د تلاوت وروسته د نیمروز د استیناف محکمې رئیس، شیخ مولوي عبدالخالق صاحب وویل: د اسلامي امارت د پالیسي موافق د اداري اصولو رعایت زموږ له لومړیتوبونو څخه دی. هغه زیاته کړه، چې د امیرالمؤمنین د حکم له مخې د آمر اطاعت واجب دی .

ورپسې د ښاري ابتدایی د محکمې رئیس، مولوي عبیدالله "عالمگیر" په غونډه کې د حاضرینو له شتون څخه د خوښۍ ترڅنگ وویل: د محاکمو قاضیان باید خپلو کارونو ته پاملرنه وکړي او د خلکو ستونزې ژر تر ژره هوارې کړي. ښاغلي عالمگیر زیاته کړه، چې قاضیان باید تقوا او د خلکو خدمت په اخلاص سره وکړي.

# بزرگان از ما بهتر می‌دانند

نویسنده: محمدصادق "طارق"

اگر توجه ما به سوی اشخاصی که در لجن‌زار محبت با بزرگانِ خویش آمیخته و آغشته شده‌اند برگردد در می‌یابیم که آنان قوتِ به میان‌آوردن انقلاب درونی و بیرونی را از دست داده و در برابر هر نوع فیصله‌ای با اکتفا بر دلیل "بزرگان از ما بهتر می‌دانند" خود و دیگران را قناعت می‌بخشند.

اگر چه فرموده‌ی "بزرگان از ما بهتر می‌دانند" در ذات خود حقیقتِ روشن، واضح و مورد پذیرش همه‌گان است اما اگر این جمله طوری به کار برده شود که با گذشت زمان، سرمنشأ دیکتاتوری بزرگان و سکوت افراد پائین‌رتبه قرار بگیرد آن‌گاه از قناعت نمودن با دلیلِ "بزرگان از ما بهتر می‌دانند" حسرت خورده و برای بار دیگر پند و عبرت خواهیم گرفت.

می‌پذیریم که "بزرگان از ما بهتر و بیشتر می‌دانند" اما عقیده نداریم که هر بزرگی، معصوم و منزّه باشد. از همین‌رو گاهی اوقات جهت صلاح ملک و ملکیت لازم است به خسروان آن تذکر داد تا با سهیم شدن در حقوق اجتماعی جامعه، حق فردی خود را نیز به دست آوریم.

"بزرگان از ما بهتر می‌دانند" را می‌پذیریم اما مفهومش چنین نیست که ما حق اظهارِ نظر و دفاع از حقوق اجتماعی خود را به هیچ عنوان نداشته باشیم زیرا اگر مسیر سرنوشت خود را به همین منوال طی کنیم شاید یک روزی به سبب دیکتاتوری و استقلال برخی از افرادی که در لباس و زیّ بزرگان نفوذ می‌کنند از تمام حقوق فردی و اجتماعی خود محروم بمانیم و آن‌گاه چون با عقیده "بزرگان از ما بهتر می‌دانند" پرورش یافته‌ایم توان انقلاب را نیز از دست بدهیم.

بدون شک "بزرگان از ما بهتر می‌دانند" اما ما نیز من‌حیث مهره‌های بنیادی جامعه، توان و حق ایستادن در برابر برخی از نظریات و افکار بزرگان را داریم زیرا بزرگان حکومت اسلامی از انتقاد زیردستان خود هیچ‌گاه خسته نمی‌شوند بلکه بعد از گوش دادن به انتقادات، پاسخ‌های قناعت‌بخش ارائه می‌دهند. دقیقاً مانند امیرالمؤمنین حضرت عمر فاروق -رضی‌الله‌تعالی‌عنه- که می‌فرماید: "اسمعوا و اطیعوا" اما حضرت سلمان -رضی‌الله‌تعالی‌عنه- بدون درنگ پاسخ داده و می‌فرماید: "لا نسمع و لا نطیع".

حضرت عمر فاروق با شنیدن پاسخ صریح و انتقاد تند حضرت سلمان ناراحت نمی‌شود که آن را بی‌احترامی در شأن خود دانسته و به خشم آید، بلکه با کمال صبر و حوصله علتِ پاسخ حضرت سلمان را جویا می‌شود. حضرت سلمان می‌گوید: با وجود اینکه به ما یک دست لباس داده و خودت دو دست لباس به تن داری باز هم توقع و انتظار داری از تو فرمان ببریم!!؟

حضرت عمر فاروق نفرمود که من امیر مسلمانان هستم و تمام بیت‌المال را در اختیار دارم باید مافوق باشم و حق پوشیدن یک دست لباس اضافه را داشته باشم، بلکه به فرزندش می‌گوید: برخیز و پاسخ حضرت سلمان را بده.

فرزندش بر می‌خیزد و می‌گوید: یک دست لباسی که حق من بود به پدرم هدیه داده‌ام به همین دلیل دو دست لباس دارد. آن وقت چون حضرت سلمان پاسخ قناعت‌بخش می‌شنود می‌فرماید: " نسمع و نطیع الآن" حالا دستور بده که بپذیریم.

کسی به حضرت سلمان نگفت که "بزرگان از ما بهتر می‌دانند" تو چرا بر لباس پوشیدن حضرت عمر فاروق -رضی‌الله‌تعالی‌عنه- اعتراض و انتقاد کردی زیرا باور و عقیده شان این‌چنین بود که هر فردی جهت دفاع از حقوق مسلّم خود، حق اعتراض بر بزرگان را دارد تا سوء تفاهم از بین رفته و اطمینان خاطر حاصل کند.

ما در عموم حالات سخنان بزرگان خود را شنیده و از دستورات شان اطاعت می‌کنیم اما به شرط آنکه آنان نیز در برخی از موارد به ما حق انتقاد را داده و سپس پاسخ‌های قناعت‌بخش ارائه نمایند.

## ۲۰ عراده موتور سیکلت برای واکسیناتوران سیار توزیع گردید



۲۰ عراده موتور سایکل برای واکسیناتوران سیار از طرف یونیسف و موسسه CHA با هماهنگی ریاست صحت عامه ولایت نیمروز، با حضورداشت نمایندگان صحت عامه، اقتصاد، CHA و یونیسف توزیع گردید.

محمد نادر "حفیظی" مسؤول ولایتی CHA در ولایت نیمروز گفت که ۱۰ عراده موتور سایکل از طرف یونیسف و ۱۰ عرادهٔ دیگر از طرف مؤسسه CHA برای واکسیناتوران اوتریچ/سیار در سطح ولایت (زرنج و ولسوالی‌ها) توزیع گردید.

حمیدالله "دانش" مسؤول مؤسسات ریاست اقتصاد به واکسیناتوران گفت که موتورسایکل یک امانت نزد شما است از آنها به خوبی استفاده نموده و در نگهداری آن توجه نمایید. زرنج، ۱۹ رمضان/ ۳۱حمل

## ترویج پول افغانی و دیدگاه مردم در نیمروز

زرنج، ۱۹ رمضان/ ۳۱ حمل

به گزارش جریدهٔ نیمروز تعداد زیادی از مردم نیمروز به شمول دکان‌داران و کسبه‌کاران از اقدام اخیر اداره محلی این ولایت جهت ترویج پول افغانی ابراز خرسندی می‌کنند و می‌گویند با حاکمیت امارت اسلامی و توجه شان به پول افغانی کسب و کار شان رونق بیشتر یافته است.

حاجی اسدالله یکتن از دکان‌داران ناحیهٔ اول شهر زرنج به جریدهٔ نیمروز گفت: ترویج پول افغانی باعث می‌شود ما فایده و ضرر خود را به خوبی تشخیص دهیم زیرا نرخ های اجناس به پول افغانی ثابت است و ما بهتر می‌توانیم با مردم معامله کنیم.

محمد زمان یکتن از دکان‌داران قسمت نقشهٔ شهر زرنج نیز ضمن ابراز خرسندی از اقدامات اخیر اداره محلی برای ترویج پول افغانی می‌گوید: "اگر روبروی چندین باب دکان یک صرافی کوچک قرار داشته باشد، برای ترویج پول افغانی و تبادل اسعار کمک بیشتر خواهد نمود؛ زیرا هر دکاندار به مشتری خود می‌گوید که اول پول خود را افغانی کن و سپس بیا وسایل بخر".

قابل یادآوری است که در چند روز گذشته اقدامات جدی از طرف امارت اسلامی جهت ترویج پول افغانی و جلوگیری از اسعار خارجی صورت گرفته است و این اقدامات تا نهادینه شدن پول افغانی به حیث پول رایج در معاملات بین مردم نیمروز ادامه خواهد داشت.

### غـــزل! شاعر: حنیفه زاهد شاجویي خور

خـدایه په زړه مي کړه سمسوري کروندې دمیني
چـــي وهرچاته يې ور و وېشم مېوې دمینـــي

دا مــــروري ګل غوټۍ مي په خندا شي ورتـه
چـــي له بلبلو څخه واورم ترانې د مینـــي

زه د غـــــمو نو له ګر دونو دزړه مخ مینځمـــه
ته خـــوبې رنګه لېي راکړه له چینې دمینـــي

دزړه په تل کي مي فتنې په انګـــولاوو شولـــې
چي خوشبېې مي کړې پربندي دروازي دمینـــي

دوینو تري پرې خبر کړئ چي توبه وباســـي
چي لاخوړې ترانګبینو دي پیالې دمینـــي

هغه شپونکی راته د مرو په کتار کي ښکاري
چـــي له شپېلۍ څخه يې نه راځي نغمې دمیني

د غه دنیا جوړه په مینـــه خو که مینـه غواړې
زاهــده ځان به ځاروې تر معشوقې دمینـــي



# تدویر جلسهٔ تعین نرخ‌نامه در نیمروز



زرنج، ۱۵ رمضان/ ۲۷ حمل

به اساس راپور آژانس خبری باختر، جلسهٔ کمیتهٔ تعیین نرخ‌نامهٔ اجناس و مواد خوراکی تحت ریاست مولوی نورالدین "حمزه" شاروال زرنج و با حضور نمایندگان مقام ولایت، قومندانی امنیه، صنعت و تجارت، اتاق تجارت و اصناف مختلف تاجران مواد خوراکی دایر گردید.

در آغاز جلسه شاروال زرنج ضمن خوش آمدگویی به اعضای جلسه پیرامون موضوع جلسه گفت: مهم‌ترین اصل و هدف تعیین نرخ‌نامه کنترول قیمت‌ها و فروش اجناس اصناف مختلف شهر زرنج است.

آقای "حمزه" خطاب به عمده فروشان و پرچون فروشان افزود: لازم است تا فروش اجناس خویش را با کم‌ترین فایده بفروش برسانند. در اخیر پس از بحث و تبادل نظر روی ترتیب نرخ‌نامه، توافق نظر صورت گرفت تا اینکه پس از دو روز، نرخ نامه در دسترس اهالی شهر زرنج قرار گیرد.

# برگزاری سیمینار آگهی‌دهی در مورد کرونا

زرنج، ۱۸ رمضان/ ۳۰ حمل

به گزارش جریده‌ی نیمروز سیمینار علمی برای اطلاع‌دهی در مورد کرونا از طرف ریاست صحت عامه، موسسه‌ی AHDS و موسسه‌ی Cordaid، با حمایت مالی جامعه اروپا و همکاری ریاست اطلاعات و فرهنگ در سالون کنفرانس‌های ریاست اطلاعات و فرهنگ برگزار گردید.

حبیب الله "الهام" رئیس اطلاعات و فرهنگ ولایت نیمروز ضمن قدردانی از برگزاری این سیمینار گفت: برگزاری این سیمینارها باعث بلند بردن ظرفیت علمی جوانان در بخش‌های مورد نیاز جامعه خواهد شد.

داکتر مجید "صافی" استاد و ترینر سیمینار به جریدهٔ نیمروز گفت: "هدف از برگزاری این سیمینارها اطلاع‌دهی به جوانان در مورد کرونا است و این‌که آنها معلومات شان‌را با دیگر اقشار جامعه به اشتراک بگذارند".

قابل یادآوری است که سیمینارهای بیشتری در آینده برای اطلاع‌دهی به مردم در مورد کرونا، در شهر زرنج و ولسوالی‌های ولایت نیمروز برگزار خواهد شد.

# دو پایه ترانس‌فارمر به بهره برداری سپرده شد



زرنج، ۱۹ رمضان/ ۳۱ حمل

دو پایه ترانسفارمر در ناحیه دوم شهر زرنج در حالی افتتاح گردید که ملا غلام نبی" عثمانی " معاون مقام ولایت، مولوی موسی "فایق" رئیس شرکت برشنا، انجینر نورالدین "کمال" معاون عملیاتی ریاست برشنا و اهالی ناحیه دوم شهر زرنج، حضور داشتند.

مولوی موسی"فایق" رئیس برشنا نیمروز ضمن خرسندی از افتتاح و به بهر برداری این پروژه صحبت نموده گفت: نظر به خواست اهالی قریه های عزیز آباد و علی آباد ناحیهٔ دوم شهر زرنج، دو پایه ترانس‌فارمر به ارزش بیش از ۲ میلیون افغانی از طرف ریاست برشنا به بهره برداری سپرده شدند. رئیس برشنا اضافه نمود، در ساخت این دو پایه ترانس‌فارمر، همکاری مردم محلی نیز وجود داشت.

اسد الله یکتن از باشندگان ناحیهٔ دوم شهر زرنج، ضمن اظهار خرسندی از اقدام برشنا گفت: با آمدن امارت اسلامی افغانستان بعد از ۱۵ سال آرزوی مردم قریه های عزیزآباد و علی آباد بر آورده شد و خانه های ما تنویر گردید.

# د نیمروز له ۱۵۰ کورنیو سره مرسته وسوه

زرنج، د روژې ۱۴ مه/ د وری ۲٦ مه

د خاشرود ولسوالۍ د سلو شهیدانو او بې وزلو کورنیو سره د مهر او امید خیریه موسسې په همکارۍ د ټیکا موسسې له لوري د خوراکي توکو مرسته وسوه، چې د توزیع پرمهال د کار او ټولنیزو چارو ریاست او د ولسوالۍ یو تن استازي هم حضور درلود.

د مهر او امید په استازیتوب مولوي عطاء الله "محمد حسني" باختر آژانس سره په مرکه کې وویل، چې د ترکیې د ټیکا موسسې لخوا د خاشرود ولسوالۍ د شهیدانو او اړمنو کورنیو ته، د مرستې کڅوړې وویشل سول، چې مخکې یې سروې سوې وه."

ښاغلي محمد حسني زیاته کړه، چې په دې خوراکي توکو کې ۲۵ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، یو ۵ کیلو غوړي او نور لومړني خوراکي توکي شامل دي.

په ورته مهال زرنج ښار د ۵۰ بې وزلو کورنیو سره د تیکا موسسې لخوا مرسته وسول.

# دیدار رئیس ارشاد، حج و اوقاف ولایت نیمروز با قومندان امنیه



زرنج، ١٦ رمضان/ ٢٨حمل

مولوی فضل الرحمن "مستغفر" رئیس ارشاد، حج و اوقاف ولایت نیمروز، با الحاج سردار محمد "ایوبی" قومندان امنیه این ولایت، دیدار و گفتگو نمود.

این دیدار که در دفتر کاری قومندان امنیه صورت گرفت، هر دو جانب در مورد هماهنگی بهتر در روند کاری بحث کردند و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

# د ۵۰ روږدو کسانو درملنې خبر دوام ص ۱

مرستیال والي، ملا محمد نبي "عثماني" وویل، چې دغه ناروغان د امیرالمؤمنین په امر او د والي صاحب په لارښوونه او د عامې روغتیا ریاست په همغږۍ راټول او د معتادینو کلینیک ته راوړل سوي وو.

د امنیت آمر مولوي محمد "مهاجر" وویل، چې د نیمروز د امنیه قومندانۍ له لوري چې کوم روږدي کسان راټول کړل سوي وه، چې ۵۰۰ تنه، یې د فراه، هرات او کابل اړوند دي، خپلو ولایتونو ته استول کېږي.

د معتادینو د درملنې د کلینیک آمر، ډاکټر خلیل شاه "کاظمي" وویل، چې د خلکو د شکایتونو له امله، له ټول ښار څخه روږدي کسان راټول سوي وو، چې په صحي او رواني برخو کې یې درملنه هم وسوه او ځیني نور ټیستونه یې هم واخېستل سول هغه کسان، چې د تداوي وړتیا درلود تداوي یې هم وسول.

د یادونې وړ ده، چې په یادو کسانو کې پنځه تنه میرمنې او دري ماشومان هم تراوي سوي دي.